DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۱۲۰۲
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

څلور میلیونه بې تعلیمه ماشومان، یوه دردوونکې خبره!

د افغانستان د پوهنې وزیر فاروق وردگ ورمه ورځ وویل لږترلږه څلور میلیونه افغان ماشومان له زده کړو بې برخې دي.
اکثره ماشومان د افغانستان په جنوبي ولایتونو کې، چې طالبان په کې زیات فعالیت لري له زده کړو بې برخې شوي دي. ناپېژاندو په تېرو پنځو کلونو کې د جنوبي ولایتونو په سلگونو ښوونځي وېجاړ کړي یا سوځولي او په سلگونو نورو کې زده کړې منعه کړي. **۳مخ**

دوولسم کال - دویمه دوره، ۱۲۰۲ مه گڼه، پر له پسې ۲۲۷۶ گڼه د ۱۳۹۰ ل. د. مرغومي ۲۵ مه - د یک شنبې ورځ، د ۱۴۳۳ هق صفرالمظفر ۲۰ مه د ۲۰۱۲ د جنورۍ ۱۵ مه

د هېواد په مخابراتي سکتور کې سیمه ییزو استخباراتي کړیو ریښې غځولي



د افغانستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت وایي، چې په مخابراتي سکتور کې د سیمې هیوادونو د استخباراتي کړیو ځیني غړي موجود دي.
وروسته له هغې، چې دوه پاکستاني وگړي د مشکوکو فعالیتونو په تور له یوه مخابراتي شرکت څخه وایستل، د مخابراتو په سکتور کې د سیمې د ځینو استخباراتي کړیو د نفوذ په اړه اندېښنې راولاړې شوې.
او سمهال په خصوصي مخابراتي شرکتونو کې زیات شمېر پاکستانیان، ایرانیان او هندیان د لوړپوړو انجنیرانو په توگه کار کوي.
د مخابراتو وزیر امیرزي سنگین که څه هم د دغه مخابراتي شرکت نوم وانه خیست، خو د مخابراتو په سکتور کې یې د سیمې د استخباراتي کړیو پورې د تړلو کسانو موجودیت رد نه کړ.
"په ځینو مخابراتي شرکتونو کې ډېر کم کسان شته چې کلیدي وظایف ترسره کوي. د سیمې هېوادونو اجنټان رالېږي، په ډېرو ځایونو کې دي او اوس هم شته، لېکن د مخابراتو په برخه کې تراوسه موږ له دوو داسې حالاتو سره مخ شوي یو، چې د پاکستان تبعه وو چې **۳مخ**

خابي چاروکي:

په کاپیسا کې طالبان له جګړو لاس اخلي!

د سیمې طالبان او چارواکي وایي، چې د کاپیسا په یو شمېر ولسوالیو کې د سولې د روانو خبرو اترو له امله وسلوالو طالبانو له جګړې لاس اخیستی او په سیمه کې امن ټینگ شوی، خو د وسلوالو طالبان ویاند دا ادعا ردوي.
له څو میاشتو راهیسې د امریکا د متحدو ایالتونو او وسلوالو طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو په اړه راپورونه خپرېږي، خو د سولې په اړه وروسته له هغه د خلکو هیلې زیاتې شوې، چې څو ورځې مخکې طالبانو په قطر کې د سولې د خبرو لپاره خپل رسمي چمتووالی وښود.
که څه هم وسلوالو طالبانو ویلي، چې په افغانستان کې د قوي موجودیت ترځنگ غواړي، په قطر کې دفتر ولري، خو په کاپیسا ولایت کې یو شمېر چارواکي او خلک د تېر کال په پرتله د دغه ولایت په یو شمېر ولسوالیو کې امنیتي حالت هیله من کړي او وایي، چې اوس هلته د تېر په څېر امنیتي ستونزې نشته.
د خابي چارواکو په وینا، په تگاب، اله سای او د نجراب په ختیځو سیمو کې به د دولت او مخالفینو تر

منځ هره ورځ جګړه وه، خو اوس هېڅ د ناامنۍ پېښې نه تر سترگو کېږي.
د اله سای د سکین د سیمې اوسېدونکي شفیع الله پژواک ته وویل، چې له تېرو څو کلونو راهیسې له وسلوالو طالبانو سره په لیکو کې و، خو اوس یې له جګړې لاس اخیستی دی.
نوموړي زیاته کړه: ((موږ اوس حیران یو، چې څه وکړو!؟ یو خوا وطن بهرنیانو نیولی، له بلې خوا د سولې خبرې رواني دي، خو ما په خپله اوس **۳مخ**

بعد از طالبان، نوبت مصالحه با کوکنار است! ۲

امریکایان روانه اونۍ له طالبانو سره خبرې پیلوي

وال ستریټ ژورنال ورځپاڼې ولسمشر بارک اوباما د حکومت د جگپوړو مامورینو په قول راپور ورکړ چې امریکایان به دا اونۍ له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړي.
دې ورځپاڼې د اوباما د حکومت د یوه جگپوړي مقام له خولې لیکلي چې په مخکینیو خبرو کې د افغانستان د لس کلنې جګړې د پای ته رسولو لور ته کلک گامونه اخیستل شوي دي.
ورځپاڼې لیکلي چې دا موضوع په داسې وخت کې مطرح شوې چې د امریکا د سمندري پلیو عسکرو له لوري د طالبانو پر مړو د بولو ویډیو خپره شوې ده چې کېدای شي د خبرو پر پروسې منفي اغېز وشنیدې.
خو نورو امریکایي ورځپاڼو بیا د طالبانو د ویاند ذبیح الله مجاهد له خولې کېښلي چې دا مسئله به د دوارو خواوو ترمنځ د سولې د خبرو پر پروسې تاثیر و نه کړي.
وال ستریټ ژورنال ورځپاڼه سیمې ته د امریکا د خاص استازي کېدونکي سفر د افغانستان له ولسمشره د هغو کې اخیستلو لپاره بللی او ویلي یې دي که ولسمشر کرزی موافقه وکړي امریکایي مقامات به په قطر کې له طالبانو سره خبرې پیل کړي.
د وال ستریټ ژورنال له مخې په تېرو دوو کلونو کې د امریکایي پوځیانو فشارونه سبب شول چې د طالبانو یو شمېر مشران قانع شي چې نور د خبرو وخت راغلی.
خو د وال ستریټ ژورنال د دې راپور خلاف لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې بیا د یوه استخباراتي راپور له مخې لیکلي چې په افغانستان کې جګړه له رکود سره مخامخ ده.
په دې استخباراتي راپور کې خبرداري ورکړای شوې چې په افغانستان کې د امنیت په برخه کې بریاوې د پراخ اداري فساد، کمزوري حکومتداري او له پاکستان څخه د طالبانو فعالیت له کبله تر سیوري لاندې راغلي دي.
نیویارک ټایمز ورځپاڼې هم له طالبانو سره د سولې د خبرو په اړه د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې د چهارشنبې د ورځې خبرو ته اشاره کړې او لیکلي یې دي چې مېرمن کلنټن د لومړي ځل لپاره د یوې داسې سیاسي حل لارې ملاتړ کړی چې د طالبانو هغه مشران هم په کې شامل وي، چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر پر لومړۍ نېټه په امریکا کې د حملو پر مهال په افغانستان کې واکمن وو.

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

از سرگیری فعالیت های کمیسیون مشترک صلح کابل - اسلام آباد

در حالی که جریان مذاکرات مستقیم امریکا با طالبان به تندی پیش می رود و همه ابعاد پیدا و پنهان آن روشن می شود، این روند دولت کابل و اسلام آباد به واهمه انداخته است. چنانکه در این اواخر با وجود تیره گی روابط طرفین، هر دو طرف تصمیم گرفته اند، فعالیت های مجدد کمیسیون مشترک صلح افغانستان و پاکستان را از سرگیرند. یکی از مقام های وزارت خارجه اعلام داشت، عنقریب کار این کمیسیون مجددا آغاز خواهد شد.

کمیسیون مشترک صلح افغانستان و پاکستان نزدیک به یکسال پیش با توافق سران ارشد کابل و اسلام آباد با هدف دستیابی به صلح، تشکیل شد.

فعالیت این کمیسیون پس از ترور برهان الدین ربانی رییس پیشین شورای عالی صلح افغانستان، متوقف شد. تشکیل کمیسیون مشترک صلح افغانستان و پاکستان که نشانه یی از درک طرفین از ضرورت همکاری برای استقرارصلح و ثبات در دو کشور است، به مانند دیگر توافق های کابل و اسلام آباد به شدت تحت تاثیر، متغیرهای تنش زاست. تا پیش از ترور ربانی، این کمیسیون سه بار با حضور مقام های ارشد وزارت خارجهٔ افغانستان و پاکستان راه های همکاری برای دستیابی مشترک به صلح را بررسی کردند. بی اعتمادی های تاریخی در روابط کابل - اسلام آباد و دست درازی و مداخلات آشکار و پنهان دستگاه استخباراتی پاکستان در افغانستان موجب شده، تا هر گاه در افغانستان علیه مقام ها یا دفاتر خارجی در این کشور حمله یی اتفاق می افتد، پاکستان به دخالت در آن متهم می شود.

دولت پاکستان نیز ورود نیروهای طالبان از خاک افغانستان به آن کشور و انجام عملیات تروریستی توسط آنان را به ضعف امنیتی دولت کابل، نسبت می دهد. در چنین شرایطی، توافق های افغانستان و پاکستان در بخش های مختلف همواره متاثر از متغیرهای امنیتی است و به محض وقوع حمله یی به ویژه در افغانستان، اجرای این گونه توافق ها تعلیق می شود. کارشناسان بر این باور اند، گروه های افراطی فعال در دو سوی مرزهای مشترک افغانستان و پاکستان، از شکاف در روابط دو کشور برای پیشبرد اهداف خود استفاده می کنند و از همکاری کابل و اسلام آباد در مبارزه با تندروان، به شدت بیم دارند.

بنابراین، شکاف در مناسبات افغانستان و پاکستان، فرصتی برای تنفس تروریستان است که بر امنیت و ثبات در دو کشور تاثیر منفی می گذارند. بر همین اساس است که همواره توصیه شده، تا کابل و اسلام آباد برای جلوگیری از وجود این شکاف، گفتگوها در چارچوب کمیسیون های مشترک سیاسی، اقتصادی و امنیتی دو جانبه را علی رغم وقوع شرایط غیر اعتماد ساز ادامه دهند و به جای سیاست تعلیق، مذاکرات را برای بررسی این شرایط، ترجیح دهند.

بعد از طالبان، نوبت مصالحه با کوکنار است!

این روزها همه می دانند که بحث مذاکره و مصالحه و تاسیس دفتر سیاسی برای طالبان در راس اخبار رسانه یی قرار دارد و دیگر موضوعات را تحت تاثیر خود قرار داده است.

امریکاییان در حالی دم از گفتگو با طالبان می زنند و آنها را عامل بی ثباتی افغانستان می دانند که در ولایات تحت کنترل آنها، روز به روز کشت و تولید مواد مخدر از جمله تریاک افزایش بیشتری پیدا می کند.

بر اساس گزارشی که روز پنجشنبهٔ گذشته از سوی سازمان ملل منتشر شد، تولید تریاک در سال ۲۰۱۱ و نیز، ارزش این محصول در کشور ما افزایش چشمگیری یافته؛ به حدی که حاصلات تریاک یازده برابر بیشتر از گندم بوده است.

بر اساس گزارش دفتر مبارزه با جنایت و قاچاق مواد مخدر سازمان ملل در مورد افغانستان ارزش تریاک تولید شده در کشور در سال ۲۰۱۱ به یک میلیارد و چهارصد میلیون دالر رسید که ۱۳۳ درصد افزایش را نسبت به سال قبل از آن نشان می دهد.

به گفتهٔ این سازمان که در لندن مستقر است، صادرات مشتقات تریاک نیز در سال ۲۰۱۱ به دو میلیون و چهارصد هزار دالر رسید که تقریبا معادل ۹ درصد از تولید ناخالص داخلی افغانستان است. جالب اینجاست که حدود ۷۸ درصد از تولید کوکنار در اراضی جنوب افغانستان یعنی مناطقی که محور تمرکز نیروهای خارجی و افغان را تشکیل می دهد، صورت می گیرد.

کشت کوکنار در کشور ما زیر نظر حدود ۵۰ کشور خارجی در سال گذشتهٔ میلادی، ۱۳۱ هزار هکتار (۱۳۱۰ هزار جریب) از اراضی زراعتی افغانستان را به خود اختصاص داد که هفت برابر سال گذشته می باشد و در آن بیش از پنج هزار و هشتصد تن مواد مخدر کشت و تولید شده است. تازهٔ این آمار در حالی است که شیوع یک آفت گیاهی سبب آسیب به برداشت این محصول گردید و الا آمار بیشتر از اینها بود.

اما سوال اینجاست که چرا این همه افزایش کشت و تولید مواد مخدر را بعد از سقوط رژیم طالبان در افغانستان شاهدیم؟ غربی ها و دولت کابل خود مدعی هستند که کشت کوکنار و تولید تریاک بخش مهمی از بودجهٔ مخالفان وشبه نظامیان را فراهم می کند، پس چرا برای قطع این بخش مهم اقتصاد طالبان اقدامی انجام نمی دهند؟ اگر طالبان توان مبارزهٔ مسلحانه را دارند و سبب ناامنی و بی ثباتی در افغانستان می شوند، زمین های زراعتی که چنین قدرتی را ندارند!

شبه نظامیان طالبان می توانند، بجنگند، فرار کنند و خواهان دفتر سیاسی برای مذاکره و مصالحه شوند، تا به قول رییس جمهور کرزی، آرام گیرند. اما برای جلوگیری از روند رو به رشد کشت و تولید مواد مخدر چه باید کرد؟ اینگونه که امریکا پیش می رود، به احتمال زیاد بعد از مصالحه با طالبان، نوبت مذاکره و مصالحه با زارعان کوکنار است و احتمالا به آنها نیز، دفتر سیاسی اعطا شود.

هرچند این امر بسیار بعید به نظر می رسد؛ زیرا در درجهٔ اول سود و منفعت این مواد مخدر در جیب های کلان مقام‌های خارجی واریز می شود و آن مقداری هم که نصیب برخی مسوولان دولتی افغانستان و طالبان می شود، برای اجرای مقاصد بیگانگان لازم است!!!

کشور را به سوی ثبات وترقی سوق دهید

ج، شمس

از سی سال به اینسو کشور در مسیر بی ثباتی نظامی و اقتصادی روان است. گروپ ها و احزاب مختلف سیاسی با ایجاد و دامن زدن اختلافات در بین اقشار و ملیت های مختلف، کشور را بطرف بی ثباتی وبی اتفاقی سوق داده و در بی نظمی و بی ثباتی کشور تلاش می ورزند.

مردم افغانستان در طول این سه دهه باید از عواقب وپیامد های بی ثباتی و بی اتفاقی که دشمنان این سرزمین در بین اقوام وملیت های باهم برادر ایجاد کردند درس می گرفتند که متاسفانه بنام اقوام وملیت اختلافات قومی را بین ملیت های هزاره، ازبک، پشتون و تاجک دامن زده واین کشور را به ویرانه مبدل ساختند.

در شرایط فعلی که مردم این کشور سخت به صلح و آرامش نیاز و ضرورت مبرم دارند، ایجاب می نماید تا ساکنان این سرزمین بدون در نظر داشت تعصبات قومی و قبیلوی برادر وار در کنار هم سعی و تلاش نمایند تا این کشور از بی ثباتی و قومگرایی نجات پیدا نماید.

امید است در سال ۲۰۱۴ که قوای خارجی کشور را ترک می گویند این کشور بسوی عدالت، مساوات، برابری وبرادری رهنمون گردد. برای ساختار یک جامعه عاری از تعصبات قومی ایجاب می نماید تا اقوام مختلف همان جامعه یک قوم ویا یک ملیت را بر دیگری ترجیح نداده وهیچ قوم ویا ملیتی خود را از دیگر اقوام وملیت برتر نداند.

در گذشته ها ما شاهد بودیم که چوکی ها و مقام های دولتی به اساس قوم پرستی و ملیت خواهی به اشخاص و گروپ ها خاص سپرده میشد که نه تنها شایستگی آن مقام را نداشتند بلکه در دامن زدن نفاق بین اقوام مختلف این کشور نیز سعی و تلاش می نمودند.

با کمال تاسف باید یاد آور شد که ادامه این روش نه تنها راه نجات وطن نیست بلکه باعث بد بختی وبیچاره گی مردم نیز می گردد.

از تجارب تلخ و ناخوش آیند گذشته باید درس عبرت گرفت و از فلسفه انسان دوستی، وطن پرستی، یکدلی و یکرنگی کار گرفت تا وطن خویش را معمور و هموطنان خویش را در مسیر رفاه وآسایش قرار دهیم.

تا دو سال آینده باید با سعی و تلاش همه جانبه کشور را به آرامش و جامعه را بطرف عدالت، ثبات و برابری رهنمایی نمود تا باز خاطرات ناخوش آیند دوره های سیاه خود خواهی، جاه طلبی چور و چپاول دو باره تکرار نگردد.

باید با همدلی و یکرنگی خاطرات خوش ومثبت را به نسل های آینده به یادگار گذاشت و کشور را به طرف پیروزی و ترقی و آرامی رهنمایی نمود.

به امید رسیدن به این آرزوی والای انسانی.

خلور میلیونه بې ...

لـه همـدې کبلـه د افغانستان د جنوب تر ټولـو د مهـم ولایـت کنـدهار د زده کوونکـو شمېر د هیواد د شمال تر ټولـو د وروسته پاتې ولایت د زده کوونکو لـه شـمېر سـره د پرتلـې وړ نه دی.

د پـوهنې وزیـر فـاروق وردګ پر دې خواشیني څرګنده کړه چې لږترلږه څلـور میلیونـه افغـان ماشومان لـه زده کړو بې برخې دي، خو په عین حـال کـې یـې هیلـه څرګنـده کـړه چـې په راتلونکو درېیو کلونو کې به د زده کړې په شرایطو ټول برابر افغان ماشومان بنـوونځیو تـه د تـګ اسانتیا ولري.

د افغانستان د پوهنې له وزارت سـره د تېـرې پنجشنبې پر ورځ جاپان د شـل میلیـون ملیـون ډالـرو مرسـتې تـرون لاسـلیک کـړ. پـه دې پیسو بـه پـه بامیـان او دایکنـدي ولایتونـو کـې بنوونځي جوړ شي.

په کاپیسا کې طالبان ...

پرېکړه کړې، چې تر هغې به جنګ نه کوم، تر څو دا موضوع روښانه شوې نه وي، چـې پـه کـوم ډول سوله کېږي.))

دالـه سای ولسوال انجنیر ملامحمد وویل، چې په قطـر کـې د سولې د خبـرو اترو لپاره د دفتر د پرانېستو له راپورونو وروسته په دې ولسوالۍ کې د تېر په څېر ناامني نشته.

د هغه په وینا، د طالبانو په لیکو کـې زیات بـدلون تر ستر ګو کېږي او ورځ تر بلې یې لیکې کمزورې کېږي.

نومـوړي وویـل، چـې پـه سـیمه کـې د هغـه مهـال منځلاړو وسلوالو طالبانو لـه جګـړې لاس اخیستی او د سولې راتلو هیله من دي.

د نجراب ولسوالۍ د پچغان د سـیمې اوسـېدونکي او پخواني وسلوال طالب شاه اغا وویـل، چې له تېرو څو کلونو راهیسې یې په دې ولسوالۍ کـې د افغـان او بهرنیو ځواکونو پروړاندې وسلواله مبارزه کوله.

د ده په وینا، په قطر کې د سولې د خبرو لپاره د دفتر لـه خبرېدو وروسته یې اوس تصمیم نیولی، چې د ایران هېواد ته د مزدورۍ په موخه لاړ شي.

نومـوړي وویـل، چـې پـه خپلـه سیمه کې اوس مهال دارېکیولـه وېرې نـه شـي اوسېدلای او دالـه سای ولسوالۍ ته کډه شوی دی.

شاه اغا زیاته کړه: ((زه چې خبر یـم، تر دې دمـه د کاپیسا په ګڼ شـمېر ولسوالیو کـې زمـا ملګرو وسله اېښې ده او زمونږ لـه سـیمې دوولس بهرني طالبان هـم بېرته خپلـو هېوادونـو تـه سـتانه شوي دي.))

دغه راز د کاپیسا د تګاب ولسوال عبدالحکیم اخوندزاده هـم وایي، چې په دې ولسوالۍ کـې د قطـر د دفتـر د راپورونـو لـه خپرېـدو وروسته د نا امنۍ پېښې ختمې شـوې دي. د هغـه پـه وینـا، پـه سـیمه کـې اوس پوره امـن دی او خلک په عادي ډول خپل کاروبار کوي. د تګاب یو قومي مشر شاه بدل هم په دې خوښ دی، چې د دوی په سـیمه کـې امـن راغلی او طالبـانو لـه جګـړې لاس اخیستی دی.

نومـوړي وویل، چې تېر کلونه به دغـه مهال د دوی په سـیمه کـې جګـړه روانـه وه او خلکـو بـه پـه خلاص زړه کار نه شوای کولای.

د ده په وینا، په سـرې ژمـي کـې خلک په ډېر ارام ډول سره خپل کاروبـار کـوي او د هـېڅ ډول نـا امنۍ اندېښنه ورسره نشته.

خـو د شاهین ساپي په نامـه پـه سیمه کـې د وسلوالو طالبانو یوه سیمه ییز قوماندان وویل، چې دوی تـر اوسـه د سولې په خبـرو ډاډه نـه دي او خپلـې وسـلوالې مبارزې ته دوام ورکوي.

د ده پـه خبـره، پـه سـیمه کـې د وسلوالو طالبـانو لیکې منظمې او غښتلې دي، خـو د ژمـي د سړې هـوا د رارسېدو لـه امله یـو شـمېر طالبان پېښور ته تللي دي.

د وسلوالو طالبـانو وایـند ذبیح الله مجاهد وویل، چې په کاپیسا کې د واورو د اوربنت له امله په غرنیو سیمو ګرځېدل سخت شـوي، چې بنایي د دوی پر فعالیتونو یې اغېز کړی وي.

د هغه په وینا، تر څو چې بهرني ځواکونـه پـه هېـواد کـې موجـود وي، تر هغې به د دوی ملګري لـه جګړې لاس وانه خلي.

نومـوړي دغه خبرې، چې ګواکې په کاپیسا کې د وسلوالو طالبـانو فعالیتونـه کـم شـوي، د افغـان حکومت تبلیغات وبلل.

د هېواد په مخابراتي سکتور ...

دلته یې په یـوه مخـابراتي شـرکت کې کار کاوه."

ښاغلی سنګین وایي، دوی په دې هڅـه کـې دي، تر خـو د ګاونـډیو هېوادونو هغه وګړي ونیسي، چې په دې برخه کې د فعالیت په پلمه نور پټ کارونه کوي.

د سنګین په وینا دغـه بهرنـي کار کـوونکي کـه څـه هـم پـه مهمـو پوسټونو کې کار کوي، خـو وایـي، چـې دوی د لـوړ پـوړو دولتـي او امنیتي چارواکو ټلیفوني مکالمې نه شي اورېدلی.

خو د امنیتي چارو کار پوه جنرال عتیق الله امرخیل بیا مخابراتي سکتور د استخباراتي ادارو لپاره د معلوماتو کېلي بولي.

دی وایي، چې د لـوړ پـوړو دولتـي چـارواکو د مخـابراتي اړیکـو د خونـدي کولـو لپـاره هـیڅ راز ضمانت نشته.

"په دنیا کې تر اوسه داسې نـه دي شوي، چې مکالمات بلکل محرم پاتې شوي وي. د متحدو ایالتونو په مرکز کې مکالمات محرم پاتې نه شول او دنیا ته راووتل، نو دوی څنګـه دومـره قـدرت پیـدا کـړی دی، چې دا وکـولای شـي، چـې مهار یې کړي.

که څوک نه شي کولای مکالماتو ته لارسي پیدا کړي، دا له حق نـه لـرې خبـره ده، ځکـه نـن ورځ الکترونیکـي تخنیـک دومـره پرمختـګ کـړی دی، چـې هر څـوک کـولای شـي دا کـشف کړي. دا چې دوی منکر دي دا بل سوال دی، ولې هغـه ښـه پـرې پوهېږي، چې د فریکوانس کشف په افغانستان کې هېڅ ستونزمن نه دی، ځکه ټول تخنیـک د هغـو پـه لاس کـې دی، چـې دلتـه استخدام شوي دي."

د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم د اداري د معلوماتو لـه مخې اوسمهال په هیواد کې په مخابراتي شرکتونو کې نهه زره یو سله څلور نوي تنه کار کوي، چې له دې ډلې یو سله شپږ شپیته تنه یې بهرني وګړي دي.

د ازادي رادیـو د راپـور لـه مخـې، اوسمهال په افغانستان کې پنځـه مخابراتي شرکتونه فعالیت کوي، چې د هیواد نږدې پنځه اتیا سلنه وګړي یـې تـر مخـابراتي پوښـښ لاندې راوستلي دي.

خـو لـه دې سـره سـره ځینـې کړې د غیرقـانوني مخـابراتي فعالیتونو هڅه هـم کـوي، چـې په تیرو څو کلونو کـې بیـا بیـا نیـول شـوي او رسـنیو تـه ښودل شوي.

قدرت های برتر نظامی جهان

۲۳- نگاهی به توان نظامی تایلند

براساس معلومات منتشر شده از سوی سازمان سیا و کتابخانهٔ کانگرس امریکا و برآورد آنها در سال ۲۰۱۱، هم‌اکنون تایلند از نظر توان نظامی در ردهٔ بیست و سوم قدرت‌های نظامی جهان قرار دارد.

تایلند با جمعیت ۶۷ میلیون نفر هم‌اکنون دارای ۳۰۶ هزار پرسونل فعال نظامی است و تعداد نیروهای ذخیره فعال این کشور ۲۴۵ هزار نفر است.

نیروی زمینی تایلند دارای ۵۴۲ دستگاه تانک، ۱۰۰۵ دستگاه نفربر، ۷۴۱ عراده توپ کششی، ۲۶ عراده توپ خودکششی، ۶۰ سیستم پدافند راکتی، ۱۲۰۰ خمپاره‌انداز، ۸۱۸ سیستم ضد تانک، ۳۷۸ سیستم پدافند هوایی و ۴۶۰۰ وسیلهٔ نقلیهٔ لوژستیکی است.

نیروی هوایی تایلند نیز دارای ۹۱۳ فروند جت و طیاره، ۴۴۳ فروند هلیکوپتر ۱۰۵ میدان عملیاتی است.

قدرت‌های نظامی جهان قرار دارد.

نیروی بحری تایلند نیز، دارای ۱۶۴ فروند کشتی، پنج بندر، یک ناو طیاره بر، شش ناوچه، ۱۰۹ قایق نظامی گزمه و ۹ قایق جنگی خشکی آبی است.

نیروی دریایی تایلند دارای زیردریایی و ناوشکن نیست.

بودجهٔ نظامی تایلند در سال ۲۰۱۱، پنج میلیارد و ۲۰۰ میلیون دالر بوده است.



کشور تایلند دارای مساحت ۵۱۳ هزار کیلومتر مربع، ۳۲۱۹ کیلومتر خط ساحلی است و ۴۸۶۳ کیلومترمرز مشترک است.

۲۴- نگاهی به توان نظامی فیلیپین

براساس معلومات منتشر شده از سوی سازمان سیا و کتابخانهٔ کانگرس امریکا و برآورد آنها در سال ۲۰۱۱، هم‌اکنون از نظر توان نظامی در ردهٔ بیست‌وچهارم قدرت‌های نظامی جهان قرار دارد.

فیلیپین با جمعیت ۱۰۲ میلیون نفر هم‌اکنون دارای ۱۲۰ هزار پرسونل فعال نظامی است و تعداد نیروهای ذخیره فعال این کشور ۱۳۰ هزار نفر است.

نیروی زمینی فیلیپین دارای، ۴۱ دستگاه تانک، ۵۵۹ دستگاه نفربر، ۳۰۹ عراده توپ کششی، ۱۰۷۰ خمپاره‌انداز، ۴۰۰ سیستم ضد تانک، ۲۰۰ سیستم پدافند هوایی و ۸۴۳۸ وسیلهٔ نقلیهٔ لوژستیکی است.

نیروی زمینی فیلیپین دارای توپ خودکششی و سیستم پدافند راکتی نیست.

نیروی هوایی فیلیپین نیز دارای ۲۸۹ فروند جت و طیاره، ۱۵۹ فروند هلیکوپتر و ۲۵۴ میدان عملیاتی است.

نیروی بحری فیلیپین نیز دارای ۱۲۰ فروند کشتی، شش بندر، دو ناوچه، ۱۲۸ قایق نظامی گزمه و ۱۰ قایق جنگی خشکی آبی است. نیروی دریایی فیلیپین دارای ناو طیاره بر، ناوشکن و زیردریایی نیست.

درې بهرني سرتېري مړه او ژوبل شول

د افغانستان په بېلابېلا سیمو کې د ایساف درېیو سرتېرو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. په کابل کې د ایساف ځواکونو د مطبوعاتي دفتر لـه خـوا د مرغومي پر ۲۴مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي، چې یوه سرتېري یې وړمه ورځ د افغانستان پـه لوېدیځ کـې ساه ورکړې ده. سرچینې زیاته کړې، چې دغه سرتېری یې په یوه غیر نظامي پېښه کې ټپي شوی و او بیا یې وروسته ساه ورکړه. کـه څـه هـم ایساف پـه خبرپاڼـه کـې د مړه شـوي سـرتېري هویـت او د پېښې کره ځای نـه دی په ډاګه کړی، خـو باید وویل شي چې په لوېدیځ کې د ایساف په مشرۍ ایتالوي او امریکایي سرتېري مېشت دي.

بلخوا د اسټرالیا دفاع وزارت اعلان کړی، چې وړمه ورځ د افغانستان په اروزګان ولایت کې یې دوه سرتېري د ماین په یوه چاودنه کې ټپیان شوي دي. سرچینې زیاته کړې، چې ټپي سرتېري روغتون ته لېږدول شوي او روغتیـایي حالـت یـې د ډاډ وړ ښـودل شوی دی.

اسټرالیا په افغانستان کې شاوخوا ۱۵۰۰ سرتېري لري، چې په اروزګان کې مېشت دي، تر اوسه یې ۳۲ سرتېري وژل شوي او ۲۱۸ یې ټپیان شوي دي.

په روان زېردي کال کې د ایساف د وژل شویو سرتېرو شمېره ۱۴ تنو ته ورسېده، چې تېر کال په هېواد کې ۵۶۶ بهرني سرتېري وژل شوي وو.

د سولې له شورا پرته به د سولې خبرې ناوړې پایلې ولري!



د افغانستان د سولې عالي شورا وایي، په تېرو لسو کلونو کې له طالبانو سره د سولې خبرو په اړه د لومړي ځل لپاره د پام وړ پرمختګ شوی، خو دغه شورا خبرداري ورکوي، چې که له طالبانو د سولې خبرې د افغانانو له مشرتابه پرته پرمخ وړل کېږي، پایلې به د افغانستان لپاره بل کړکېچ رامنځ ته کړي.

دا شورا وایي، په قطر کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې لومړنۍ خبرې روانې دي خو وایي تر اوسه د سولې عالي شورا او افغان حکومت ته په کې د شریکېدو فرصت نه دی ورکړل شوی.

په همدې حال کې دغه شورا په قطر کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې خبرو ته هیله منه ښکاري او تمه ښیي، چې د افغانستان له ثبات سره به مرسته وکړي.

د سولې عالي شورا مرستیال عبدالحکیم مجاهد وایي، له طالبانو سره د سولې په هر ډول خبرو کې باید د ده په وینا د افغانستان ټولې پرګنې او اړخونه برخه ولري.

ښاغلي مجاهد وویل، که د افغانستان ټول اړخونه د سولې په خبرو کې برخه وا نه خلي، ښایي پایلې یې د افغانستان له ثبات او ټیکاو سره مرسته ونه کړي: ''که چېرې یو اړخ د بل اړخ د منفي کولو او مذکراتو د نه کولو هوډ لري، او له بل اړخ سره خبرې کوي، نو په پایله کې به که هر راز سوله راهم شي، پایښت به ونه لري او یو بل بحران به رامنځ ته شي، چې د افغانستان ملت نور د دا ډول ناخوالو زغم نه لري. هیله مې دا ده چې د افغانستان د سولې په بهیر کې هم د افغانستان حکومت، هم وسلوال مخالفان او نړیواله ټولنه چې مشري یې امریکا کوي، دخیل وي.''

تر دې وړاندې افغان حکومت هم په وار وار ویلي وو، چې د سولې د بهیر مشري به خپله افغان کوي. خو د سولې د عالي شورا چارواکي وایي، د امریکا او طالبانو ترمنځ په خبرو کې تر اوسه دغې شورا ته برخه نه ده ورکول شوې.

د سولې عالي شورا چارواکي وایي، د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې، اوسمهال د اعتماد د رامنځ ته کېدو لپاره تر سره کېږي.

دا شورا په داسې وخت کې دا خبرې کوي، چې تمه کېږي، په نژدې راتلونکې کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړې استازی مارک ګروسمن کابل ته لاړ شي او له ولسمشر کرزي او نورو چارواکو سره د سولې د خبرو به اړه لیده کاته وکړي.

صدراعظم پاکستان در آستانهٔ رای اعتماد پارلمان:

بین "دموکراسی و دیکتاتوری" یکی را انتخاب کنید

درحالیکه پارلمان پاکستان خود را برای دادن رای اعتماد به دولت و تنظیم لایحه‌یی با هدف تقویت رهبری غیرنظامی آماده می کند، آصف علی زرداری از امارات به پاکستان بازگشت.

براساس گزارش خبرگزاری فرانسه، پارلمان پاکستان قرار است، فردا روز دوشنبه رای اعتماد به دولت را بررسی کند.

در لایحهٔ پیشنهادی به پارلمان نیز، از تمامی موسسات دولتی خواسته شده، تا براساس محدودیت‌های قانون اساسی عمل کنند.

یوسف رضا گیلانی، صدراعظم پاکستان گفته است که پارلمان در جلسهٔ رای اعتماد به او باید بین "دموکراسی و دیکتاتوری" یکی را انتخاب کند.

گیلانی در سخنرانی در جمع قانون‌گذاران از سیاستمداران مخالف خواست که در راستای تقویت دموکراسی در این کشور گام بردارند.

وی گفت که دولت غیرنظامی در راستای تقابل با دولت یا سیستم قضایی نیست.

گیلانی افزود: این لایحه علیه دولت، سیستم قضایی و ارتش نیست.

صدراعظم تصریح کرد که وی از پارلمان برای ارایهٔ اعتماد کامل به دولت ایتلافی درخواست‌هایی کرده است.

این رای‌گیری در حالی انجام می‌شود که تنش میان دولت، ارتش و قوه قضاییهٔ پاکستان بالا گرفته و ضرب‌الاجل ستره محکمهٔ پاکستان به دولت این کشور برای بازگشایی دوسیه های فساد سیاسی نیز، در حال پایان یافتن است.

صدراعظم پاکستان در یک گفتگوی تلویزیونی قوماندانان ارتش را به باد انتقاد گرفت.

این ضرب‌الاجل بعد از آن اعلام شد که محکمه، عفو دولتی سیاستمداران پاکستان از جمله آصف علی زرداری، رییس جمهور این کشور را لغو کرد.

گیلانی از نماینده گان پارلمان خواست، تا از دموکراسی حمایت کنند و گفت که وی "از هیچ‌کس برای حمایت از خود گدایی نخواهد کرد."

گیلانی تاکید کرد: هر کس به حذف دولت پاکستان رای دهد، به دموکراسی در این کشور ضربه زده است.

از سوی دیگر، سفر زرداری به امارات باعث دامن زدن به شایعاتی دربارهٔ احتمال رخ دادن کودتای نظامی شد.

تنش میان دولت و ارتش پاکستان در روزهای اخیر و بعد از آن شدت گرفت که ارتش به صراحت از گیلانی انتقاد کرد و نسبت به پیامدهای احتمالی اظهارات وی هشدار داد.

گیلانی در یک گفتگوی رسانه‌یی، رهبران ارتش را به باد انتقاد گرفته بود.

همزمان با این تنش‌ها گیلانی وزیر دفاع خود را، که روابط نزدیکی با ارتش داشت، از سمت خود برکنار کرد.

گیلانی ماه گذشته نیز، بدون اشاره مستقیم به ارتش پاکستان گفته بود که توطیه‌هایی برای سرنگون کردن دولت وی در جریان است. اتهامی که اشفاق کیانی، لوی درستیز پاکستان آن رارد کرده است.

معیار های بین المللی حقوق بشر برای تطبیق قوانین

بی نظمی داخلی: از زور فقط در صورتی استفاده شود که شدیداً به آن ضرورت باشد.

از زور فقط برای تحمیل اصولی قوانین استفاده شود.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سر لیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼې یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com
معاون: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Farhat yar
Editor: Khadem Ahmad
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com